# کابل



**شاعر: عنایت الله پویان**

دا کابل کله کابل دی • • • دا تاریخ د پرګنو دی
دا غورځنګ دی، دا پاڅون دی • • • دا داستان د حادثو دی

دا پګړی ده، دا شمله ده • • • د تړون او پیوستون دی
دا د لمر په لور رڼا ده • • • د دژوند په لوری یون دی

دا زانګو د تمدن ده • • • دا زیارت او برکت دی
دا کتاب د اویستا دی • • • دا مشال د حقیقت دی

دا جګړه ده، حماسه ده • • • دا د سرو وینو توفان دی
هر میرمن یې ملالۍ ده • • • هر زلمی یې میرویس خان دی

دلته سوله بریالۍ ده • • • ازبک زما د متو زور دی
هزاره مې د سر ستر ګې • • • هر تاجک د پښتون ورور دی

دا پاک لمر د شنه آسمان دی • • • دغه ښکلی خراسان دی
دغه مینه ده،ریښتیا ده • • • دغه ګران افغانستان دی

هر بڅرکی یې د خاورې • • • د ړندو سترګو طوتیا ده
پرې تازه دي مړاوې زړونه • • • دا درمل دی، دا دوا ده

که زر زله پر مخ لویږي • • • سکون نلري پاخیږي
که زر زله څوک یې وژني • • • مړینه نلری خوځیږي

دا زمونږ د پلار کیږدی ده  • • •  د لمر وړانګو کې ځلیږی
دا  کیږدی  د  ستر[یما]ده  • • •  دا  کیږدی کله ړنګیږي

خدایه! ته یي ساتندوی شې  • • •  د  پویان  دغه  دعا  ده
امن امان  ورته نصیب کړې  • • •  دا مو ژوند، دا مو ښکلا ده

د خدای ښه دې وي - له هالند څخه عنایت الله  پویان

---

رفقا، دوستان عزیزتارنمای **وطندار** ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید

admin@vatandar.at


مدیر مسوول : انجنیر هما یوسفی

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

najib_yousefi@hotmail.com



کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت  محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد



باز گشت

بقیه گزیده های مقالات عنایت الله پویان کلیک نماید